دهمغه شهادت سلسله مستقیم ... (motto, calligraphic)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

نمبرمسلسل (١٣٤٤) سال تزدهم شمارهٔ (١٣٠) پنجشنبه (٢٣)حوت ١٣٧٥ هـ.ش (٥) ذی القعده (١٤١٧) هـ.ق (١٣)مارج ١٩٩٧م

داکترغیرت «بهیر» :

طالبانوته دحزب له خوا دپیغام ورکولو خبر بی اساسه دی

دحزب مسؤلینو له پاکستانی مقاماتوسره دورور«حکمتیار» دیلنی په باره کی نه تماس نیولی او نه ددی ارتیاشته

اسلام آباد – دکب ٢٢مه :

پرون د پاکستان د انگریزی ژبو خوورخپانو خبرخپورکړی وچی گنی حزب اسلامی افغانستان طالبانوته د مرستی پیغام ورکړی اوهم ئی له پاکستانی مسؤلینوڅخه غوښتنه کړی چی دورور حکمتیارته پاکستان ته د راتگ بلنه ورکړی – دحزب په سیاسی کمیسون کی د بهرنیو اړیکومسؤل داکترغیرت بهیر د نوموړی خبر په باره کی په تیلفون شهادت

پاتې «٤» مخ «٤» ستون

الهی لاربنوونی

لوړی کړي – او عیسي دمریمې ځوي ته موبینات (څرگندي نښې) ورکړي او په روح القدس (جبریل) دده ځپله پا که روح) سره مو دده لاس ښپړي (مرسته) وکړه – او که الله غوښتي وي لدوي نه وروسته کسان به پس له هغه چي بینات ورته راغلي نه وو سره جنگیدلي خو لیکن اختلاف یې وکړ نو لدوي نه چا ایمان راووړ او لدوي نه ځوک کافر شو . اوکه الله غوښتي وي نه به وروسره جنگیدلي خو لیکن الله څه چي وغواړي کوي یې .

اي مومنانو له هغه څه نه انفاق وکړي چي در روزي کړي مو دي – مخکې لدي نه چيداسي ورځ راشي چي نه پکې بیع (پیرودل او اخستل) شته او نه دوستي او نه سپارښتنه اوداکافران همدا دوي ظالمان دی .

په بادغیس کی دجنرال دوستم جنگی الوتکه راغورځول شوی

بادغیس – دکب ٢٢ مه :

دجنرال دوستم مربوط یوه جنگي جیټ الوتکه تیره ورځ له غرمې وروسته دبادغیس په ولایت کي راوغورځول شوه .

دکابل شریعت غږ راډیو درپوټ په اساس الوتکه چي غوښتل ئي په دغه ولایت کي دطالبانو سنگرونه بمباري کړي دطالبانو دولي ددوو ښکاري الوتکو په

پاتې «٤» مخ «٦» ستون

وزارت خانه ها وادارات اضافی منحل شده است

وزارت عودت مهاجرین دروزارت تحصیلات عالی مدغم شد

ستانکزی

کابل –٢٢حوت :

تغییرات وتعدیلات دروزارت خانه های دولتی بنابردستورملامحمد عمر رهبرطالبان به عمل امده است .

ملاشیرمحمد استانکزی معاون وزارت خارجه اداره« طالبان درگفتگوباخبرنگاران

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

بازشدن دفترطالبان درنیویارک نشانه نزدیکی بیشتر این گروه به امریکاست

بلخ –٢٢ حوت :

امریکا بدلیل اجتناب ازعکس العمل جامعه« بین المللی نمی تواند آشکارا ازطالبان درافغانستان حمایت وپشتیبانی قاطع نماید . بنابرین این کشوربا پیروی

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

حضرت صبغت الله «مجددی» داستاد مزاری دشهادت ددوهمی کلیزی غونډی ته:

پردی لاسونه دافغانستان دوجود په ختمولو لگیادی

له هغه ورځی ویریږم چی دافغانستان جسد خاوروته وسپارو

مایه ډیر جرأت خپل اعتراضونه دمداخله گروپرضد اعلان کړی

زما اوزما دکورنی ژوند پرخطر کی دی،خوماپرخدای توکل کړی

پشاور: گوشه یی از مراسم دومین سالروز شهادت عبدالعلی مزاری رهبر حزب وحدت اسلامی افغانستان .

داستاد خلیلی پیغام:

که داوضعه دوام وکړی ، نود زړه ریږدونکی اورلمبی به افغانستان وسوځوی

دافغانستان حالت دسیمی اونړی ثبات،هم گواښ دی

پیښور – د حوت ٢٢مه :

دافغانستان د ملی نجات جبهی مشر اوپخوانی جمهوررئیس حضرت صبغت الله مجددی، په هغه غونډه کی چی د حزب وحدت اسلامی دمشر عبدالعلی مزاری د شهادت د دوهمی کلیزی په مناسبت جوړه شوی وه ، د خپلی وینا په ترځ کی وویل : موږ د ١٧ کلنی مبارزی په ترځ کی له ډیرو رهبرانو سره ملگرتیا وکړه ، له ځینو سره موهمکاری وکړه ، خوپرته له استاد مزاری څخه هیڅ چاهم زموږ قدرونه پیژند . اوتر استاد مزاری

پاتې «٤» مخ «٤» ستون

ناخوښه نه یم بلل شوی ، دکارساحه راته تنگه کړله شوه

داستاد «سیاف» په مشوره می ټول امتیازات پریښودل اوپیښور ته راغلم

پیښور–دکب ٢٢مه :

په سعودی عربستان کی د استاد ربانی د دولت د سفارت سرپرست جنرال موسی خان پرون شهادت ته په تیلفون وویل چی د زه د سعودی دحکومت له خوا، نه نا خوښه شخص بلل شوی یم اونه راته د ایسترگراښ شوی ، یواځی د کارساحه راته تنگه کړله شوه اومانشوای کولای چی د خپلی دندی رسمی اجرا لپاره زمینه ولرم « موسی خان زیاته کړه چی کله می استاد«سیاف» له وضعی خبر کړ، نومشوره ئی راکړه چي سفارت پریږده او

پاتي «٤» مخ «٦» ستون

ملامحمد غوث دانگلستان له سیاسی هیئت سره وکتل

کابل – دکب ٢٢ مه :

دطالبانو دبهرنیوچارو دوزارت سرپرست ملامحمدغوث اخوند تیره ورځ په کابل کي دانگلستان له سیاسي هیئت سره وکتل .

دشریعت غږ راډیو درپوټ په اساس په دي هیئت کي دانگلستان دبهرنیوچارو په وزارت کي دآسیا دجنوب آمر، په اسلام آباد کي دانگلستان د سفارت مرستیال

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

ایران درقضیه کولاب دخالت ندارد

یك مقام وزارت خارجه ایران ارسال هرگونه کمك نظامي به کولاب تاجکستان را ردکرد .

به گزارش خبرگزاري « ارنا» علا الدین بروجردي معاون وزارت خارجه ایران درگفتگو باخبرنگاران در تهران اظهار داشت که جمهوري اسلامي درقضیه کولاب هیچ گونه دخالت ندارد .

بقیه صفحه (٤) ستون (٧)

به نوشته یکروزنامه چاپ پاریس :

٨٠ درصد شهریان کابل به مساعدت بیگانگان متکی هستند

زنان میتوانند در منازل شان برای موسسات خیریه کارکنند

کابل –٢٢حوت :

وضعیت اجتماعی واقتصادی شهریان کابل ناگوارونگران کننده بوده ، بحران اقتصادی دراین شهربه اوج خود رسیده است .

روزنامه فرانسوی زبان نویس شورش چاتین چاپ پاریس دریکی ازشماره های اخیر خویش ، مصایب وآلام شهریان کابل ومساعدت های جامعه، جهانی به افغانستان رامنعکس ساخته ، نگاشته است که بیش از هشتاد درصد مردم به کمك های خیریه خارجی دراین شهر تکیه دارند .

بقیه صفحه (٤) ستون (١)

جنرال بشیر له «قضایادولیه » اونیزی سره په مرکه کی :

هیڅ ستونزی به می تنازل ته اړنکړی

له جگړی سره سره دسودان سیاسی اواقتصادی حالت ډاډ من دی

دسوډان مخالف گوندونه دبهرنی تیری لپاره دسرپوښ په توگه استعمالیږی

زه دعربی هیوادو دټولنی کوم وجوداصلاً نه وینم

٢٠ مخ

دوستم عازم بادغیس شد

مزارشریف – ٢٢ حوت :

شوراي عالي دفاع ازافغانستان طي سه روز اخیرباسازماندهي نیرو هاي جدید بیش از(٢٠٠٠) نفرجنگجوي تازه نفس را ازصفحات شمال کشور براي مقابله باتحرکات گروه طالبان راهي ولایت بادغیس کرد .

بقیه درستون «٦» صفحه«٤»

یك دیپلومات وعضو کانگرس امریکا :

روحیه تفاهم میان افغانها موجود نیست

محال است که یك گروه خواست خویش را بردیگران تحمیل کند

واشنگتن –٢٢حوت :

امریکا خواستار رعایت حقوق بشر، جلوگیری ازدهشت افگنی و قاچاق مواد مخدر درافغانستان بوده و طرفدارتاسیس حکومتی است که هیچگونه تهدیدی در

بقیه درستون «٢» صفحه«٤»

کشت گندم درصوبه سرحد رفع میشود

پشاور – ٢٢حوت :

استفاده غیرقانونی گندم ،موجب قلت آن درایالت شمال مغربی پاکستان شده وحکومت ایالتی مطابق تعهدی که نموده اعلان داشته که این بحران درکمتر ازبیست وچهارساعت آینده خاتمه می یابد.

براساس گزارش مطبوعات پاکستان سردارمهتاب احمد خان «عباسی»وزیراعلی ایالت سرحدی پاکستان این مطلب را در پاسخ به انتقادات برخی مقامات ایالتی

بقیه درستون «٢» صفحه«٤»

په مزارشریف کی داستاد مزاری دمړینی کلیزه ولمانځل شوه

داحمد شاه مسعود یوه استازی ، دطالبانو پرضد د «مزاری » دمقاومت ساینه وکړه

مزارشریف – دحوت ٢٢ مه :

دمزارشریف په ښارکې دحزب وحدت دمشر استاد عبدالعلي مزاري دشهادت کلیزه دوزگرتو گډون کونکولهٔ خواپه یوه غونډه کی ولمانځل شوه .

دبي بي سي راډیو د رپوټ په اساس دعبدالعلي مزاري دشهادت دکلیزي په غونډه کي دشپعه ټولني څو زره کسان

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

امریکا میکوشد ایران را منزوی سازد

واشنگتن– ٢٢ حوت :

امریکا فعالیتهای دیپلوماتیکی خود راجهت به انزوا قراردادن ایران ، افزایش داده ومدعی شده که تهران دراعمال دهشت افگنی و تروریزم جهانی بخصوص درشرق میانه ملوث می باشد .

بقیه صفحه (٤) ستون (١)

احزاب وحدت اسلامی پیمان دفاع مشترك را امضا کردند

٢٢ حوت :

به دنبال حملات اخیر طالبان به مناطق مختلف بـه خصوص حریم هزاره جات دوجناح حزب وحدت اسلامي افغانستان باامضا توافقنامه تصمیم گرفتند بادفاع مشترك ازحریم هزاره جات در مقابل هرگونه تعرض وحمله نظامي به این مناطق باهمه وجوددفاع نمایند .

درین بیانیه از مـردم این مناطق

بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

واشنگتن : بل کلنتن رئیس جمهور امریکا به حسنی مبارك رئیس جمهور مصر در جریان کنفرانس مطبوعاتی مشترکی که بعداز ملاقات روز دوشنبه شان دایر شده بود ، تجوا مینماید . مبارك وکلنتن درجستجوی وسیله ای برای احیای مذاکرات صلح میان سوریه واسرائیل اند

دحج کمیسیون ابلاغیه

حزب اسلامي افغانستان دحج دفریضي په ادا کولو کي دخپلو هیوادوالو دمرستي لپاره یوکمیسیون ټاکلي چي له پاسپورت نه پرته ئي دحج لگښت پنځه دیرش زره اوځلورسوه کلداري اټکل کړي دي. ددواړو خواووټکټ، دبیرته راتگ ویزا، خاك پولي، معلم ، دمدیني متووي په شمول ترانسپورت ، صحي سند اوخروجي ټول دکمیسیون په غاړه دي .

هغو محترمو هیوادوالوته چي دحج کولو نیت لري خبرورکول کیږي چي دحج کمیسیون ته مراجعه وکړي . دمراجعي لپاره دحمل پنځمه چي دمارچ له پنځه ویشتمي سره سمون خوري وروستي نیټه ټاکله شوي ده .

آدرس: C – ٤١ دصاحبزاده عبدالقیوم روډ – یونیورسټي ټاون – پیښور

دحزب اسلامي سیاسي دفتر

تلیفون : ٨٤٠٣٥٣ – ٨٤٠٢١٤ . (٣-٥)

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانګرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنګ

تحت نظر هیئت تحریر

تلیفون: (۲۶۲٤۸۷)

آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

که جدي توجه ونشي ...!

ځيني کسان داسي دي چي پيښوته په عاطفي او سطحي نظرګوري ، دقضاياوو تل ته نشي ورکوزيداي ، دجهاني اوضاع په نبض نه پوهيږي ، دتحليل او تعليل په وخت کي دخپل خوښ اوناخوښ اوخپلو احساساتو له تاثيرنه ځان نشي خلاصولي اوداوضاع اوحالاتو دپيشبيني اودکردارونو په باره کي دقضاوت کولو په وخت کي خپلي اصلي سياسي وابستګي بيلابيل پيوندونه ، دروني رجحانونه اوګټي له نظره نشي غورځولاي .

دغه ډول کسان هميشه دوچ شعاريت ښکاروي ، په دګماتيزم اوتحجرمبتلا وي ، لــه کليشو اوچوکاټونو نــه بهرفکرنشي کولاي او تصورکوي چي دنيــا تول هماغه ده چي دوي ئي ويني اودوي ئي درك کولاي شي . او پيښيږي به هغه څه چي دوي ئي غــواړي اودوي ئي دواقــع کيدو اټکل کوي .

دغه رازکسانوته دافغانستان اوضاع داسي ښکاري لکه په يوه جوړ، متحد، ودان اوله نورمال ژوند نه برخمن هيواد کي چي دګواحزابوترمنځ کوم سياسي اختلاف، پارلماني جنجال اوانتخاباتي کشمکش وي او بايــد هغه دسياسي حزبونو اوپارلماني نظام دحتمي جــز اوتقاضا پــــه توګـه نه حيرانوونکي وي اونه ورته د زيــات تشويش په سترګه وکتل شي. حال داچي زموږ پــــه هيواد کي ديوه سترجهاد نتيجي ډوبي شوي اويوملت او هــيواد دغرقيدو په خواروان دي اوپه دغه ډول يوه حالت کي کومه خطرناکه پيښه ده چي زموږملت ته ئي دواقع کيدو احتمال ردشي ؟

په اوسني وخت کي چي افغانستان په کوم موقعيت کي پروت دي اوپه اوسني بڼه چي کوم رکود ورباندي حاکم دي، ددي په شان خطرناك حالت پري په تيرواتوکلونوکي هيڅ کله نه دي راغلي .

که داوضع بدله نشي، ادامه ئي ډيري ناوړه نتيجي راوړاي شي . په همدغه سبب ده چي که زموږ ګاونډيان داوسني وضع دادامي کوشش وکړي، نوپه ځرګنده ورباندي داتور لګيږي چي دوي دافغانستان په باره کي خطرناك نيتونه لري . دوي ته پکارده چي دټول هيواد په سطح دبحران داساسي اودايمي حل په لارکي مرسته وکړي ، اوله داسي اقداماتونه لاس واخلي چي هغه له متحاربو لوريو سره دمرستي په شکل وي اويا په اوسني اوضاع کي ددوي داوږدو پروژواوپروګرامونودعملي کيدو په بڼه کي وي. که ګاونډي هيوادونه دي موضوع ته جدي توجه ونکړي اودخپلو نيتونو په باب شکونه لري نکړي ، نوزموږ له ملت سره به ددوي په باره کي دانزجار اونفرت يوشديد احساس اوذهنيت راولاړشي او داهغه شي دي چي دمسلمانانو ګټه دښمنان تري ډيره خطرناکه ګټه پورته کولاي شي .

قسم په قرآن کې

حکمتیار

التکویر

د التکویر په سوره کی ګورو چی الله (ج) ددی مطلب د اثبات لپاره چي پیغمبر(ع) دا قرآن له هغی ځواکمنی اوعزتمنی فرشتی نه ترلاسه کړی چی د آسمان په افق کی یی په ځرګند طورلیدلی :
په ځرګندیدونکو-تلونکواوپټیدونکوستورو اود شپی په تلو او د و رڼی په راتلو استشهاد کوی او وایی :

فلا اقسم بالخنس الجوارالکنس واللیل اذا عسعس والصبح اذاتنفس انه لقول رسول کریم ... توداسی نده- قسم می په هغه را ا وبښتونکو خوځیدونکواو پټیدونکو- او په شپه چي ترشا شی او په ورځ چي سا واخلی بیشکه چي دا د قدرمن استاځی وینا ده .

بیافرمایی :
ولقد رآه بالافق المبین .
اویقیناً چي هغه ئی په ځرګند افق کی لیدلی وو – یعنی همدا راز چی تاسو په شپه کی –ځرګنداو ځلیدونکی ستوری په افق کی ګوری اوهمدا راز چی شپه ترشاشی اوخپل ځای ورځی ا ورتا ته تخلیه کړی اوهرڅه تاسوته ځرګندشی همدا راز پیغمبرعلیه السلام هماغه فرشته لیدلی وه چی دا قرآن یی ده ته را رسولی دی .

عجیبه ده چی دلته (الخنس الجوار الکنس) چي صفات دی اوموصوف ئی ندی ښودل شوی خوټول مفسرین دا د ستورو صفات ګڼی داځکه چي د شپی ذکر او وروسته د ورځی یادونــــه اومترادف ئی ددغوصفاتو ذکر په خپله دا ځرګندوی چي ددغوصفاتومصداق ستوری دی نه بل څه – دکلام نظم همدا غوښتنه کوی – حیران یو چي ولی په نورو مواردوکی همدا اسلوب په کار نه وری زه ګمان کوم چی د دی اصلی وجه د انسان هغه نیمګړتیا ده چي ستری ستری ورځنی پیښی ورته عادی اوغیرمهمی ښکاري اودهغوی په وړاندی بی حساسیت ختم شوی. وی خو یوه غیرطبیعی اوفوق العاده پیښه که څه هم ډیره بسیطه اوغیرمهمه وی ورته ستره ښکاری که هره ورځ لمرله ختیځه راپورته کیږی په خپل وخت او دعجیبی دقیقی منظمی او نظم سره چي یوه ثانیه له خپل ثابت وخت نه او یو انچ له خپل ټاکلی مدارنه نه شاته کیږی اونه وروسته کیږی – او دهمدی دقیق ختو لویدو سره د ځمکی په سر د ژوند ا مکان برابرشوی که داسی نه وی او پدی کی معمولی تغییرراشی د ځمکی په سر د ژوند امکانات ختمیږی خو همدا ستر اوعجیب کار انسان ته عادی اوغیرمهم ښکاری – له هغه نه تاثراو پند نه اخلی – خوکه همدالمرکومه ورځ ځرګندنشی، طلوع یی ونځنډیږی اویاناڅاپی له لویدیځه را ځرګند شی، انسان به ئی خومره ستره پیښه ګڼی – په همدی خاطرډځرګندوشیانو لپاره راغلی صفات ، او په هغوی باندی شوی استدلال کافی نه ګڼی یاو رته مهم نه ښکاری اوکوشش کوی چي هغه په غیرطبیعی اوغیرملموسو شیانو تطبیق کړی.

ابراهیم (ع) د الله د اثبات لپاره له ختیځه د لمریه راختو او په لویدیځ کی پریوتو باندی ا ستدلال کوی نه په غیرطبیعی اوفوق العاده پیښو – داڅرود دی چي داسی حقایق کافی نه ګڼی او ابراهیم (ع) دهغه د ساکت کولو لپاره ورته وایی : که ته رښتونی یی نولمرله غربه را اوچت کړه !

الطارق

د الطارق د مبارکی ســـوری قسم مخکنی مطلب پــه ډیــر واضح طورځرګندوی ، دسوری په سر کی داسی راځی :

والسماء والطارق وما ادرئك ماالطارق – النجم الثاقب- ان کل نفس لماعلیها حافظ.

په آسمان او د شپی ځرګندیدونکی قسم – اوڅه شی خبرکړی چي دشپی ځرګندیدونکی څه دی –ځلانده ستوری- یقیناً داسی څوك شته چي په هغه دی یو څارونکی نه وی –

د الطارق معنا د شپی لـــه خوا د کورونو د دړو ټکونکی او دق الباب کونکی دی لکه چي ګوری قرآن دامفهوم د ستوری لپاره انتخاب کړی ، او دشپی له خوا په ځرګندیدونکی ستوری استشهاد کوی او ددی مطلب د اثبات لپاره یی د دلیل په حیث وړاندی کوی چي هرنفس ساتونکی لری په دی هکله لاندی ټکوته توجه وکړی:

الف – که د الطارق د توضیح لپاره النجم الثاقب نه وی ویلی شوی خدای خبر چي حینومفسرینو به لدی الطارق نه څه جوړکړی وو – اوکوم کوم تعبیرونه به یی ورنه کړی وو .

ب – همدا د یوه روښانه اصل په حیث قبول کړی او الصفت – الزاجرات- التالیات او الملقیت هم ددی اصل په رڼاکی د ستورو صفات وګڼی.

ج- الطارق النجم الثاقب – ځرګند اوملموس شی دی او د هرنفـــس ساتونکی غایب دی کـــوری چي په مشهود او محسوس شی د غایب شی د اثبات لپاره استدلال شوی – دا به هم پداسی موارد و کی د یوه اصل په حیث په نظرکی نیسی .

د – باید ولتهو چي دا کوم ساتونکی دی چي دغه د شپی له خوا ځلیدونکی ستوری د هغه په شته والی ګوامی ورکوی – له الطارق نه کوم خاص ستوری نه بلکی د ستوروجنس یعنی ټول ستوری مراد دی.

هـ – ځینی مفسرین پدی عقیده دی چي له ساتونکی نه هغه فرشته مراد ده چي په انسان باندی ګمارل شوی چي دده څارنه کوی او ځینی نور پدی عقیده دی چي دا ساتونکی په خپله الله جل شانه دی چي د هرانسان او د هرڅه ساتونکی اوڅارونکی دی ، دهمـــــدی سوری وروستی آیتونه په ډاګه ښیی چي د مفسرینو د دوهمی ډلی د رای لپاره هیڅ دلیل نشو موندلی.

و – باید و ګورو چي آسمان او په هغه کی د ستورو شتوالی څنګه د مورد نقاش مدعاچي په هرنفس د حافظ اوساتونکی شتوالی دی شـــــهادت ورکوی؟ په لاندی دو و صورتونو :

۱– مګرددی خوروور آسمان ، په بی انتها فضاکی ددی بیشمیره ستورو ساتنه چي هریو په خپل معین اوثابت مدارکی په وخت سره ساتل کیږی، د دوی ترمنځ د هر راز تصادم اوټکرمختوی کیږی نه پریښودل کیږی چي د بدنظمی ښکارشی او یو د بل په مدارکی داخل شی او یوبل جذب کړی آیا دا په خپله تاته نه ثابتوی چي کوم ذات د دغوبیشمیره سماوی اجراموساتونکی او ددی بی انتها هستی اداره کوونکی دی هغه ستا ساتونکی او ستا دکړو وړو څارونکی دی !

۲– نه ګوری چي د شپی په تیاره کی ، هلته چي ته پواځی وی او ګمان کوی چي څوك دی نه وینی ، خو پورته د آسمان په پراخسټلی سټری غیږکی بیشمیرځلانده ستوری، سناځواته ګوری – تاته سترګك وهی اوله لری په همدی تیاره شپی کی ستا د کړو وړو ناظردی – همدغه څارونکی او سترګك وهونکی ستوری ، تاته ثابتوی چي ستا دا عقیده غلطه اوبی بنیاده ده چی ستا لپاره کوم غیبی ساتونکی او ستا دکړو وړو لپاره کوم څارونکی نشته.

هغه کسان چي په قیامت یا په دنیاکی د عملونو په مکافات او مجازات باورنلری په حقیقت کی ګمان کوی چي داهستی او کائنات کوم ساتونکی او پالونکی نلری داکائنات بی خاونده ملك دی – چي پدی کی هرڅوك هرڅه وکړی هیڅوك نشته چي لدوی نه تپوس وکړی – دنیا ته راځی-بیرته ورنه ځی – نه سوال ځواب شته اونه سوال کونکی او پوښتونکی :

پداسی حال کی چي دغه بی حسابه ستوری او د دوی ساتنه اوحفاظت په ټول صراحت سره ګواهی ورکوی چي زموږ هستی ځانته مقتدر ساتونکی لری .

په همدی سورۍ کی وروسته د اسی لولو :

والسماء ذات الرجع – والارض ذات الصدع انه لقول فصل – وماهو بالهزل .

دبیرته ګرځولو خاوند آسمان باندی قسم او چاودلرونکی ځمکی باندی – بیشکه چي دا پریکړنده وینا ده او بیهوده خبره نده .

یعنی هغه آسمان چي، پورته تلونکی وریځی په مسلسل توګه د باران ، و اوری اوبلی په څیر بیرته دځمکی په لوری ګرځوی او په همدغه بیرته ګرځیدونکو اوبو سره ځمکه خوړیږی-پرسیږی او زرغونه بوټی د ځمکی زړه څیری او بهر راوځی، دا صحنه ثابتوی چي :

الف : آسمان اوځمکه یواځی یو پالونکی لری چي هغه د دوی ترمنځ دا یووالی او تنسیق ایجاد کړی چي په ګډه کاروکړی یو له برنه او به ورری او بل په خپل زړه کی په همدی اوبوسره دانه اومیوه راشنه کړی .

ب : لکه چي له آسمان څخه په یوه باران سره، د ځمکی په زړه کی د ژوند عوامل په خوزښت راولی- اوسپیره داګ، په ښکلی او زړه راښکونکی مزرعی بدلوی همدا راز به دبعثت په ورځ ، دځمکی زړه کی مدفون مړی را ژوندی کوی- همدغه صحنی ثابتوی چي دا خبره کومه بی بنیاده اوخوشی خبره نده بلکی پریکړنده اوقاطع خبره ده چي جوړی ئی د ځمکی په زړه کی او د آسمانونو په عمق کی ننوتی او دواړه د هغی په حقانیت شهادت ورکوی.

یس

پدی مبارکی سوری کی په قرآن حکیم لوړه شوی او وروسی ویل شوی چي یقیناً ته (ای محمده !) د پیغمبرانو څخه یی، یعنی له حکمت نه ډك قرآن پدی شهادت ورکوی چی ته د الله له لوری د پیغمبر په حیث لیږل شوی یی ، د پیغمبر علیه السلام د رسالت د اثبات لپاره ترټولو ستراومعجزدلیل په خپله همدا د حکمتونو سرچینه قرآن ، او د خدای ، انسان او هستی د معرفی او پیژندنی لپاره دقیق کتاب اوله اسرارو ډك قرآن دی د قرآن حرف ،حرف، او دهرڅه په هکله دهغه ژور او دقیق تحلیل- او په حرګندو علمی اساساتو مبتنی دهغه خبرنی د پرون نن او مستقبل په هکله – د طبیعت اوهستی په هکله – د انسان او دده د خلقت او روحی او مادی جوړښت او دده د ماحول په هکله او دهمدی خوږ، ووږ ماحول له هر جز سره دده د تعلق د څرنګوالی په هکله د قرآن لقضاوتونه او پریکړی په خپله ثابتوی چی دا کتاب د داسی چا له خوا لیږل شوی چي له هرڅه خبردی ، په هرڅه علم لری، هیڅ څه ورنه پټ ندی – که ټول ، انسانان – د تیری زمانی او د وروستیو پیریو ټول سره یوځای شی اویو بل ته لاس ورکړی، نشی کولی دی کتاب ته ورته کتاب وړاندی کړی.

پاتی د٤ د مخ د٦ د ستون

صحبتی روی بازگشایی دفاتر تنظیمی درپاکستان

واصل حمید

روزنامه شهادت اخیراً خبر بازگشائی دفترجمعیت اسلامی در پاکستان رامنتشر نمود و درین خبر آمده بود که یکعده وزرا واراکین جمعیت اسلامی که پشاورآمده اند. درین دفترایفای وظیفه خواهند نمود . بدنبــــال این خبر اخبارانګلیسی زبان نیوز نیز ګزار ش کرد که دفترجمعیت اسلامی دوباره در «چمکنی» پــــشاورفعال شده وعبدالبصیرسخنګوی جمعیت اسلامی توسط بی سیم این دفتر بااستاد ربانی درداخل افغانستان صحبت کرده است .

قبل ازبازګشایی دفترجمعیت اسلامی ، دفترشورای جـــهادی مشرقی نیزدرناحیه لندیکوتل آغازبکار نموده ازاعلامیه های که اخیراً توسط این شورا داده میشد ،صحبت فعالیت های این شورا در ولایت کنرنیز درمیان بود ،حتي تبصره میشد که شورای مشرقی فعالیت نظامی خود را در ننګرهار نیز ازسرمیګیرد .

حزب وحدت شاخه اکبری نیزبا انتشار هفته نامه «پیمان وحدت» وکشایش دفتر نمایندګی ظاهراً دوباره در پشاور اظهارموجودیت کرد .

انکشافات اخیردرسطح پشاور را مصاحبه تیلفونی بـــرادر حکمتیار امیرحزب اسلامی ازتهران قوت داد . بااینکه درمصاحبه یاد آوری ګردید که امیرحزب اسلامی برای مدت عارضی وغرض تداوي در ایـــران بسرمیبرند ومصمم هستند که دوباره رهسپارداخل افغانستان شوند ولی مبصرین همین نکته را که امیرحزب درنظردارد که بکشوربازګردد ،بمعنای ګرم شدن دوباره فعالیت های سیاسی تنظیم های جهادی وخصوصاً حزب اسلامی در پاکستان تلقي نمودند و اینطوروانمود ساختند که ګویا با استفاده ازفضای بازی که حکومت نوازشریف درپاکستان ایجاد نموده شاید فعا لیت های تنظیم های جهادی وسیاسی در پاکستان رنګ وورنق دوباره پیدا نماید.

اماخوشبینی های مربوط به بازګشایی دوباره دفاترتنظیم های جهادی در پاکستان را خود مطبوعات پاکستان نیز دریك شکل دیګرنفی میکنند . چنانچه مطبوعات پاکستان تقریباً به اتفاق هم ادعامیکنند که در پالیسی پاکستان به ارتباط قضیه افغانستان تغییر وتبدیلی رونمانشده وآمدن آقای نوازشریف و رخصت شدن خانم بینظیربوتو ازمقام نخست وزیـــــری پاکستان کدام تغییرمحسوسی که حاکی از انعطاف تازه پاکستان درافغانستان باشد بمشاهده نرسیده است .

درمورد بازګشایی دفاتر و ازسرګیری فعالیت تنظیم های جهادی در پاکستان باید دو نکته را مدنظر داشته باشیم . اول اینکه نه سیاست پاکستان ونه او ضاع واحوال افغانستان مثل هفت هشت سال قبل بازمیګردد که بتواند در روشنی آن زمینه کاربرای دفاتر ګروه های سیاسی وجهادی پیدا شود .

در قدم دوم نفوذ وموقعیت اجتماعی تنظیم ها نیزدیګر به آن پیمانه ای نیست که بتواند انتظار های سابقه را درمورد بازګشایی دفاتر تنظیمی احیاء نماید . وقتی صحبت از بازګشایی دفاترتنظیمی درپشاور میشود بیشتر اذهان جانب زنـــــده شدن کارها وسرګرمیهایی میرود که این تنظیم ها قبلاً ازآن برخوردار بودند که این مسأله دیګریك آرمانی دست نیافتنی ویك تیر ازکمان رسته ای است که دیګربازنمیګردد .

ولی اګربخواهیم نه تنها در پاکستان بلکه درمجموع روی احیاء فعالیت تنظیم های جهادی فکرکنیم موقعیت این ګروهها را در قبال شرایط و اوضاع جاری پیدا نمائیم ومطابق آن روی احیای برنامه های کار برای ګروههای جهادی فکرنمائیم . در چنین صورتی زوایای کار در شکلی نمودار میشود که درقدم اول اهمیت دفترودفترسازی در اذهان کم میشود . همانطوریکه ګفتیم شرایط اوضاع ومقتضـــــیات امـــروزمثل دیروزنیست ، خصوصاً کار این تنظیم ها نیزباشکل سابق فرق پیدامینماید .

نکته مهم دراحیای نقش تنظیم های جهادي و دفاتر جهادی کشف زمینه های کار درقبال وضع موجود است واین زمینه به نحوی است که نقش دولت های میزبان را در رابطه با فعالیت این تنظیم ها وضرورت مراجعه به ارګانهای رسمی این کشورها کم میسازد .زمینه های جدید برای کارتنظیمی درکشورهای همجوار وخصـــــوصاً پاکستان اساساً باید زمینه های خود کفا از هر لحاظی باشد . درهمان مقامی باشد که بازوی مهاجرین وهواداران این تنظیم قادربچرخاندن آن هـــستند . هرګونه برنامه کار که بکمک های بیرونی و براجعات رسمی متکی باشد ، دیګر نه به آن شکل سابق برای تنظیم ها دست میدهد و نه این کمك ها میتواند داروی کارسازبرای دردها ومصایبی باشد که این حلقه ها به آن ګرفتار شده اند .

برخی تصورمیکنند که اګرهمان امکانات پول و سابق برای تنظیم ها و اریزشود ، شاید موقعیت ازدست رفته تنظیم ها دوباره احیاګردد که البته این تصوراشتباه است . اګرچه تنظیم های جهادی میتوانند فعالیت های سیاسی ونظامی داشته باشند وحتی این فعالیت ها راحتی در صورتیکه مثلاطالبان یا کدام پدیده دیګر تمام افغانستان را درتصرف داشته باشند به شکلی ادامه بدهند ولی این نکته روشن است که موفقیت ها وضروریات فعلی زمینه های کار احیاګرانه را برای تنظیم های بیشتر در ساحه اخلاقی برابرمیسازد ،تاساحه نظامی و سیاسی . مشکل وبلکه محال مینمایدکه دیګرتنها ازطریق فعالیتهای سیاسی ونظامی موقعیت تنظیم های جهادی احیا شود . وضع موجود شانس کار را درجهت زمینه های اخلاقی واعتقادی نشان میدهد که باید به آن توجه کرد و بیشتر برنامه وسرګرمیها را درمحور آن ترتیب وتنظیم نمود.

> زمینه های جدید برای کارتنظیمی درکشورهای همجوار وخصـــــوصاً پاکستان اساساً باید زمینه های خود کفا از هر لحاظی باشد . درهمان مقامی باشد که بازوی مهاجرین وهواداران این تنظیم قادربچرخاندن آن هـــستند . هرګونه برنامه کار که بکمک های بیرونی و براجعات رسمی متکی باشد ، دیګرنه به آن شکل سابق برای تنظیم ها دست میدهد و نه این کمك ها میتواند داروی کارسازبرای دردها ومصایبی باشد که این حلقه ها به آن ګرفتار شده اند .

> درمورد بازګشایی دفاتر و ازسرګیری فعالیت تنظیم های جهادی در پاکستان باید دو نکته را مدنظر داشته باشیم . اول اینکه نه سیاست پاکستان ونه او ضاع واحوال افغانستان مثل هفت هشت سال قبل بازمیګردد که بتواند در روشنی آن زمینه کاربرای دفاتر ګروه های سیاسی وجهادی پیدا شود .
> در قدم دوم نفوذ وموقعیت اجتماعی تنظیم ها نیزدیګر به آن پیمانه ای نیست که بتواند انتظار های سابقه را درمورد بازګشایی دفاتر تنظیمی احیاء نماید

شهادت

هیڅ ستونزي به مي تنازل ته اړنکړي

ژباړه: صفت الله قانت

داسلام آباد دسیاسي څېړنو انستیټوټ ځوا نشریدونکي معتبري عربي اونیزي (قضایادولیة) سره د سوډان جمهور رئیس جنرال عمرحسن احمد البشیر دسوډان دشرقي اوجنوبي سرحدونو دپیښو اوحوادثو په باب یوه پـه زړه پوري او تفصیلي مرکه کړي چي دادي پښتوملن یې درنولوستونکوته وړاندي کیږي .

پ : محترم رئیس صاحب دقیسان اوقرن هـغه مواضـع او ځایونه چي یرغلګرودسوډان نـه نیولي دي دهغي دبیرته لاس ته راوړلو په باب ددولت ځوا تراوسه څه اقدامات شوي دي اوتاسي څه فکرکوي چي دابه کله اوڅه وخت بیرته ترلاسه شي ؟

خ : دسوډان دقیادت په سطحه موږ هیڅکله هم دجنګ لپاره دټاکلي تاریخ تعین نه کوو اونه دا زه ادعا کوم اونه ئي کوم بل خاص مسئول داسي ټاکلي تاریخ

> دجنګ سره اقتصادي وضعه مستقره ده دتیري او تجاوز نه وروسته دانقلابیون توله سکته شوي ده اوسوډاني روپۍ دډالر مقابله کي خپل قیمت دلاسه نه دي ورکړي چي داداقتصادي وضعي په استقرار دلالت کوي ددي حوادثو په وجه دسوډان دولس په خارجي اوداخلي ډول باندي نظم نورهم قوي شوي دي. دخپلي قضیي سره ئي پوره همکاري کړي ده .

دخپلي ځمکي دبیرته لاس تـه راوړلو لپاره اعلانوي مګرموږ د خپلي غصب شوي ځمکي بیرته لاس ته راوړلو لپاره چي څومره زرممکن شي هلي ځلي کوو .

پ : ایاداالدیښنه شته چي داجنګ به په راتلونکي کي دسوډان دبربادي سبب شي اویرغلګرځواکونه به نورځایونه هم ونیسي ؟

خ : بلي داریتریا سره په شرقي سرحدونوباندي ترا سري بحیری(پوري اوجنوبي سرحدونوسره داوګندا دپرلو ترڅنګ څه ځایونه دهغوي دهدف لاندي دي، موږ پدي عقیده یوچي په نژدي راتلونکي کي به جنګ ختم نه شي زموږ په نظر دګاونډي هیوادونوپه حیث که څوك ژوند تیرول غواړي نوبايد یوله بـل سره دښه ګاونډیتوب لپاره دتفاهم لاري چاري ولټوي.

سوډان چي دکله نه دبرتانیا څخه په ۱۹۵٦ کي آزادي اخیستي ده دهغي ورځي نه دیوه خطرناك جنګ سره مخامخ دي اوس چي دښمنانوته داثابته شوي ده چي سوډان دخپلوسختو اومشکلو شرائطو سره هم خپله دفاع کولي شي نوبیا ئي ځني طرفونو ته کومکونه ورکړل ترڅو دسوډان په ضددغـسي خطرناك جنګ لمن نوره هم پراخه شي او دا خبره دخلیج په جنګ کي اودهغوي په تبلیغاتوکي بـه ثابته شوه دسوډان پـه ضد ډیرو دولتونو سره لاسونه یوکړل اوهغي یاغیانوته یي کومکونه ورکړل اولاسونه یي ورته ور اوږده کړل چي د ســوډان دیووالي اسلام اوسولي په ضدیي جنګ کولو .

دهغه وخـــت دسیاسي تحلیلاتو اوامکاناتو پــه رڼا کــي ویل کیدل چي یاغیان اوآپوزیسیون به حکومت دپښونه راوغورځوي مګرداالله جل جلاله په فضل نتیجه داسي شوه چي موږ دټولو هغو ښاروتو په بیرته لاس ته راوړلو بریالي شوو اوموفقیت موترلاسه کــړ چي خوارجودحزبي سیستم حکومت په دوران کي نیولي وو موږ وکولاي شول چي د(صیف الصبور) پــه عملیاتو کي اکثره مناطق بیرته لاس ته راوړو اوفقط یوه کوچني سرحدي ترانګه دباغیانوپه لاس کي پاتي شوه .

موږیه خـپل الله باندي پوخ یقین اوایمان لرو اوبیا په خپل ځان اوملت باندي پوخ اعتماد لروچي ان شاء الله دامرحله به هم په ښه موفقیت سره ترسره کړو .

پ : ایاتاسي دموجوده حالاتو سره دمقابلي لپاره دخپلو دوستانونه همکاري غوښتي ده اوکه مو غوښتي ده نو ددي همکاري نوعیت څه دي اوایا دایران نـه موداسلحې غوښتنه کړي ده ؟

خ : موږ دخپلـو ټولـو وروڼو اودوستانوسره ځانسونه نیولي دي اوهغوي ته موډسوډان په ښاروتو باندي دتجاوز وضع واضح کړي ده دهغي په باب مووږته خپل هراړخیزموقف واضح کړي دي او هغوي ته مو ددفاعي امکاناتو اودهغي دکیفیت په باب هم پـوره وضاحت کړي چي ددي مقابل کي زموږ دوستانو او وروڼو په پراخه اوسطره پیمانه باندي زموږ غوښتني ته مثبت ځواب ویلي دي .

پ : په سوډان باندي دیرغل پدي لړي کي دمخالفو ګروپونو دګډون حجم څومره دي ؟

خ : موږپوره باورلرو چي اپوزیسیون نظامي قوت نلري اوپه اریتریا کي چي داپوزیسیون دافرادو تربیي لپاره کوم تربیوي غونډونه جوړشوي اوڅوك پکي دي هغه خویاپه زور وړل شوي اویا په پیسو سره غولول شوي اوڅوك هم چي دروپو په وعدو هلته وړل شوي هغه سوډانیان دي چي دپخوانه ارتیریاکي اوسیدل .

استکباري او تجـاوزګـــر دولتونه اپوزیــسیون دسریویس په ډول دځان لپاره استعمالوي لکه اریتریاچي زموږ ســر پــه سرحدونوتجاوزوکړ اوبیاایتوپیا چي زموږ په خاوره یې اخري تیري وکړ ددي لپاره اپوزیسیون په خـوله باندي وایي چي داګوندي دهغوي قواوي دي .

مګر لله الحمد هغوي خپلواهداقولاس ته راوړلوکي نه په داخل کي اونه په خارج کي کامیاب نشول اوتردي پوري چي کومو طرفونو او خلکوچي اپوزیسیون ددي موقف نیولو ته اړکړي وو هغوي هم اوس دخپلو مطبوعاتوله لاري نه وائي چي دسوډان په خنیخ کي چـي څه پیښ شول هغه داتوپیاتیري اوتجاوز وو .

پ : دسوډان او نور مخالفو دولتونو ترمنځ دسولي دڅه خبرو آوازي اوریدل کیږي ویل کیږي چي له امارات او اردن نه علاوه دایران ځوا اوهم په شخصي بڼه یولړهڅې رواني دي چـي د سوډان اومخالفو دګاونډیانوترمنځ سوله رامنځ ته کړي ستاسي په دي باب څه موقف دي ؟

خ : دسولي داهڅې شـته دي خوپه ابتدائي مرحـله کي دي اوموږ هم داسي اورو چي یوڅه اطراف داسي دي چي غواړي زمــوږ او ګاونډیانو ترمنځ مینځګړیتوب وکړي لکه دایران د وروږ دولت هلي ځلي مګردابه ابتدائي مرحله کي دي اوزموږ موقف په دي باب دادي چي موږ په مذاکراتو اوتفاهم اوښه ګاونډیتوب باندي عقیده لرو اوهمدا زموږ دڅورونې دانقلاب اساسي عنصر اواساس دي کیداي شي چي دجنګ ترڅنګ خبري اتري اومذاکرات هم موجود وي او دسولي راوړلو اوجنګ ودرولو لــپاره اصلاً دجنګونو په دوران کي خبري اومذاکرات کیږي ترڅو په تدریجي بڼه دسولي طرف ته حرکت وشي زموږ دجنوب دباغیانو سره هم همداسي وشول چي دیوي خواپه میدان کي ګرم جنګ روان و خو د بلي خوانه زموږ اودهغوي هیئتونه دمذاکراتو میز ته ناست وو تردي چي دجـنوب د باغیانو دځني جنګیالیو ولو سره دتفاهم دلاري ته اتفاق ته ورسیدو .

پ : تاسي دعمومي عفوي فرمان دپخوانه صادرکړي دي ایا مخالف ګوندونه ددي فرمان نه استفاده کولاي شي؟

> خ : زه فکر کوم چي ددي فشارونو هدف یواځي دانه دي چي دسوډان حکومت فقط اوسني سیاست ته تغیرورکړي اویس بلکه ددي فشارونو هدف دادي چي ټول سوډان دځمکي دنقشي نه ختم شي ځکه استکباري اواستعماري دولتونه اوقوتونه فکرکوي چي ترڅوسوډان دخپل متمدن اسلامي اوعربي فرهنګ سره په دي قاره کي موجود وي هغوي نه شي کولاي چي خپل طویل المدت اهداف لاس ته راوړي .

خ : په داسي حال کي چي دسوډان په خاوره دي تجاوز روان وي دسوډان ځمکه دي دپردیو ترسلطي لاندي وي اوددي دتجاوز ګرو دتیري لپاره دمشروعیت اوروا والي دلایل برابروي اوه‌تیري کونکي سره دي کومك کوي په داسي حالاتو کي دعفوي خبري ددوي په شـان کي هیڅ معني نلري اونه ممکــن ده . او اوس خوددوي په رابطه دجنایاتو یوسترلســت موجود دي .

پ : ایا تاسي څه فکرکوي چي په سوډان باندي ددي خارجي تجاوز اوتیري هدف دادي چي تاسي دخپل اسلامي فکرنه منصرفولوته مجبورکړي اوایا دامکنه ده چي دفشارونو په نتیجه کي تاسي دخپل اسلامي فکرنه تنازل قبول کړي ؟

خ : زه فکرکوم چـي ددي فشارونو هدف یواځي دانه دي چـي دسوډان حکومت فقط اوسني سیاســت ته تغیرورکړي اویس بلکه ددي فشارونو هدف دادي چي ټول ســوډان دځمکي دنقشي نه ختم شي ځکه استکباري اواستعماري دولتونه اوقوتونه فکرکوي چي ترڅوسوډان دخپل متمدن اسلامي اوعربي فرهنګ سره پــه دي قاره کي موجود وي هغوي نه شي کولاي چي خپل طویل المدت اهداف لاس ته راوړي .

اوددي خطرنه دځان خلاصولو یواځني وسیله همداګڼي . چـي د سوډان اوسني شکل ختم شي اوپه وړو وړو دولتونو اوریاستونو بانـــدي تقسیـــم شي اوبیابوانارشیزم پکي رامنځ ته کړي لکه چي سومالیا، روندا، اونورمنطقو کي ئي چي وکړل .

پ : ایاتاسي دانه ګڼي چي ددي ټولو مسایلو ترڅنګ پـــه ســوډان باندي دفشارونو دزیاتوالي یــو عامل ستاسي اسلامي فکرهم دي؟ نو کــه دافشارونه همداسي له یوي ورځي نه بلي ته زیات شي امکان نلري چي تاسي دخپلي اسلامي برنامي څخه یو څو قدمـه بیرته شاه ته شي ؟

خ : زموږ په دغه اسلامي طرزتفکر اوبرنامي باندي تلل یو تکتیکي امرنه دي بلکه دازموږ دایـمان اوعقـــیدي نه راولاړشوي دي موږ کــه ددي په وجه دهرڅومره مشکلاتو او چیلنجونو سره مخامخ شو دخپـلي اسلامي برنامي اوپروګرام نه هیڅ قسم تنازل به په دي لاره کي قبول نکړو ددي په وجه چي دااوس موږ دڅه مشکلاتوسره مخامخ یو زموږ لپاره څه نوي خبره نه ده دپخوانه موږیه دي پوهیدو چي ددي کارپه وجه به ډیرو دښمنیوسره مخامخ کیږو .

نبوي سیرت حدیث اوقرآن موږته همداښیي چي ددي اسلامي طرزتفکر اوبرنامي په وجه به له لویو لویو امتحانونو سره مخامخ کیږو خو موږ به ان شاء الله چي هیڅکله هم دخپل اسلامي پروګرام نه په شاه تګ ونکړو، او داڅه چي اوس روان دي دلټول موږ نه ښکاروي چي موږ په درسته اوصحیح لاره باندي روان یو .

پ : اوایاداسلامي طرز تفکر داتقاضا هم ده چي دسوډان نــه دباندي ګاونډیو ملکونوته هم داسلامي فکردصادرولو لپاره دادعوت انتقال کړئ ؟

خ : افکاراوایدیالوژي په جغرافیوي اوسیاسي حدودوکي نــه راپنډیږي تاسي کولاي شي چي په جغرافیوي لحاظ باندي څه حدود اوسرحدونه ترسیم کړي اونقشي جوړي کړي مګرداکارهیڅکله هم په افکارو آرووو اوایدیالوژیکي اساساتوکي ممکن نه دي .

ټوله نړي دارتباطي وسایلوپه واسطه اوس دیوه داسي کلي حیثیت غوره کړي چي نه یوازي په ګاونډیو پوري محدوده دي، بلکه ټولي نړي پوري مربوطه ده .

اوداچي موږ داسلام خبره په زوره په خلکوقبوله کړو داسي کارموږ نه کوو موږ په دي عقیده لرو چي دټولو نړي سره ارتباط ولرو اودملتونو راي ته احترام وکړو اوموږ کوښښ کــوو چــي له ګاونډیوسره ښي اړیکي، ګـسرو او دټولو ادیانوخاوندانوسره دتفـاهـــم اوعلمي دلایلولاره خپله کړو داغواړو چي ددي اساساتو اومفاهیموپه رڼاکي دهرچاسره خبري اتري اومعامله وکړو .

زموږ دخپلو ډیرو ګاونډیانو سره روابط دي هغوي کله هم دغـسي کوم شك نه دي کړي چي موږ ګوندي دهغوي دعقایدو په خلاف یي دحکومت په خلاف کوم کارکوو لکه چادمنځني افریـقا، اوکینیااوداتول دولتونه د تـــورو ادیانو دخاوندانو ځـــوا اداره کیږي حتي موږ دمتجاوزینونه ددي دعوي برعکس خبري هم اورو چي ګوندي موږ دهغوي په خلاف مسیحي سخت دریځ ولي هڅرو اوکومك ورسره کوو چي دا ددوي ددي اتهام اودعوي سره چـــي موږګوندي داسلامي فکرهغوي ته دصادرولو هڅه کړي بالکل تضاد لري .

پ : دیرخلك وایــي چـــي شرقي سرحدونو کي دکرمك اوقیسان دښاروتو په رابطه چي څـــه و شول دا یوه داخلي موضوع ده ؟

خ : دامنیت دشورا ځوا په موږ باندي داتورلګول کیږي چي دري هغه کسان چي سوډانیان نه دي او په ادیسه بابا کي دمصر دجمهوررئیس دوژلو په هڅه کي ملوث دي اوسوډان ته داخل شوي باید دوي ته وسپارل شي چي سوډان ته دهغوي داخلیدل نه موږته معلوم دي اونه بل چاته اوس چي په سوډان کي خارجي یوخ ښکاره مداخله کړي ده دایوه داخلي موضوع ګڼي مثلاً که داهم ومنوچي دادسوډان خلك دي چي سوډان باندي یي حمله کړي ده نودکوم ځاي نه راغلل اودکوم دولت ځوانه دوي راغلي ایاهمدادموضوع دبل چاپه داخلي چارو کي لاس وهنه اونړیوالو اصولو مخالفت نه دي ؟

پ : نوچي داسي وي سوډان ولي دامسئله دافریقا دیووالي ټولني تـــه نه وړاندي کړي اوهمدارنګه دامنیت دشورا اوعربي دولتونو دټولني مواقف څرنګه ارزيابي کوي ؟

